# زه تاسو ته د الله له وېرې (تقوى) سپارښتنه کوم، او دا چې د خپل مشر خبره واورئ او اطاعت يې وکړئ، که څه هم يو غلام پر تاسو حاکم شي، ځکه څوک چې له ما وروسته ژوند وکړي، نو ډېر اختلافونه به ويني، نو پر تاسو لازمه ده چې زما سنت (طريقه) او د راشدو، هدايت شوو خلفاوو لار تعقيب کړئ

له ابو نجيح، العرباض بن ساريه رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي چې: مونږ ته رسول الله  داسې پند (نصيحت) راکړ چې زړونه پرې ولړزېدل، او سترګو اوښکې توېې کړې، نو مونږ وويل: اې د الله رسوله! داسې ښکاري لکه دا چې د يوه مخه ښه کوونکي نصيحت وي، نو مونږ ته وصيت وکړه! هغه وفرمايل: «زه تاسو ته د الله له وېرې (تقوى) سپارښتنه کوم، او دا چې د خپل مشر خبره واورئ او اطاعت يې وکړئ، که څه هم يو غلام پر تاسو حاکم شي، ځکه څوک چې له ما وروسته ژوند وکړي، نو ډېر اختلافونه به ويني، نو پر تاسو لازمه ده چې زما سنت (طريقه) او د راشدو، هدايت شوو خلفاوو لار تعقيب کړئ، او پرې ټينګ پاتې شئ؛ د ژامې غاښونه پرې ټينګ کړئ او (په دين کې ) له نوو جوړو شوو چارو ځان وساتئ، ځکه هر بدعت (نوې اختراعه شوې ديني کړنه) ګمراهي ده».

[صحيح دی] [أبو داود او الترمذي روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو صحابه کرامو ته داسې په زړه پورې خطبه ورکړه چې له امله يې زړونه وويرېدل او له سترګو اوښکې وبهېدې. نو هغوی وويل: اې د الله رسوله! دا خو داسې يو وعظ دی لکه څوک چې الله په اماني اخلي، ځکه هغوی رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې په وعظ او نصحيت کې يې زياته مبالغه وکړه، نو د وصيت غوښتنه يې ترې وکړه تر څو پرې له هغه وروسته منګولې ولګوي. هغه وفرمايل: د الله تعالی د واجباتو په پرېږ ځای کولو او له منهياتو څخه يې په ځان ساتلو سره درته له الله تعالی څخه په وېرېدلو وصيت کوم، او دا چې واکمنانو ته غوږ ونيسئ او پيروي يې وکړئ، که څه هم پر تاسې يو غلام واکمن شي، يعنې تر ټولو ټيټ انسان پر تاسې امير وګمارل شي نو سرغړونه ترې مه کوئ بلکې پيروي يې وکړئ، تر څو فتنه راولاړه نشي، ځکه يقينا که څېرته په تاسو کې له مانه وروسته څوک ژوندی پاتې شي نو زيات مخالفتونه به وګوري. بيا يې ورته لدې اختلاف څخه د وتلو لاره وښودله، چې هغه له هغه وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم او راشدينو هدايت موندونکو خلفاوو په سنتو منګولې لګول دي؛ أبو بکر صديق، عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان او علي بن أبی طالب رضي الله عنهم أجمعين، او دا چې د ژامې وروستۍ غاښونه پرې ټينګ کړي، چې پدې سره يې موخه په سنتو کلک پاتې کېدل او منګولې لګول وو. او په دين کې يې له نويو کارونو راپيدا کولو څخه ووېرول، ځکه (په دين کې) هر نوښت ګمراهي ده.